**د قرارداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا**

**موضوع**: د مایکرو سیستمس ارتباطی تکنالوژي او معلوماتی خدماتو شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک غواړي څو د دې بانک د معلوماتی تکنالوژی آمریت لپاره د د افغانستان بانک د تکنالوژی او معلوماتی لوی آمریت لپاره د سرورنو دستگاه او د ویندوزنو لایسنسونو چمتو او تدارکولو قرارداد د مایکرو سیستمس ارتباطی تکنالوژي او معلوماتی خدماتو شرکت ته ورکړي، چې DAB/1402/NCB/G14 د تشخیصه نمبر لاندی او دا شرکت د (35207) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې د تایمنیو دوهم سړک، د کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه (5,434,217) پنځه میلیونه څلور سوه څلور دیرش زره دوه سوه او اوه لس افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به قرارداد منعقد نه شي.